**مطبوعاتي اعلاميه**

# د حزب التحرير- ولايه سوډان يوه پلاوي د گاداريف له والي سره وکتل

## (ژباړه)

د ۲۰۱۹م د اپرېل په ۱۹مه د جمعې په ورځ د حزب التحرير-ولايه سوډان يوه پلاوي په گاداريف ښار(القادريف) کې د گاداريف ولايت له والي، ستر جنرال محي الدين احمد الهادي سره د نوموړي په دفتر کې وکتل. د دغه پلاوي مشري بشير احمد البشير کوله او ملگري يې دغه وروڼه وو: عواد مهاجر، منتصر کارار، تاج ديرار او عبدالصمد الطيب.

دغه پلاوي د سياست په ډگر کې د روان وضعيت د واقعيت په اړه دحزب التحرير ليد او نظر وړاندې کړ او له والي نه يې وغوښتل چې د نصرت له خلکو نه د يوه کس په توگه او په دولت کې د ده منصب ته په کتو د اسلام پلوي وکړي؛ د انصارو د مشر، سعد بن معاذ د مقام يادونه يې ورته وکړه چې په نصرت ورکولو يې لومړی ځل اسلامي دولت تاسيس شو.

دغه ورور وويل، چې حزب التحرير مې پېژانده، خو دومره په جزياتو نه؛ له پلاوي سره يې د پخواني حکومت په مفسدوالي او دا چې اسلام يې نه پلی کاوه توافق وکړ؛ ټينگار يې وکړ چې له اسلام سره دی او ويې ويل چې د سوډان خلک د اسلام ځايناستی نه مني.

د ناستې په پای کې ياد پلاوي والي ته د «اساسي قانون معرفي» تر عنوان لاندې کتاب ډالۍ کړ چې حزب التحرير خپور کړی او د خلافت دولت د اساسي قانون مسوده پکې ده؛ دغه قانون بايد ولوستل شي او عملي بڼه ورکړل شي.

## ابراهيم عثمان(ابوخليل)

## د حزب التحرير-ولايه سوډان رسمي وياند

۱۴۴۰هـ.ق کال د شعبان ۱۳مه

۲۰۱۹م کال، د اپرېل ۱۹مه

گڼه: ۴٦/۱۴۴۰